څېړنوال دکتور عبدالحکیم هلالی

# د پښتو ژبې د فونیمیکي الفبې لارښود

Ketabton.com

پښتو ټولنه
۱۳۵۵

څېړنوال دکتور عبدالحکیم هلالي

# د پښتو ژبې د فونیمیکي الفبې

# لارښود

پښتو ټولنه - د ژبپوهنې څانګه

مهتمم: محمد شیرین سنګری

د پښتو ټولنې د خپرونو پرله پسې نمره "۲۱۷"

۱۳۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی محمد داؤد د افغانستان د دولت رئیس او صدراعظم

# پېژندګلوي

د (انګلیسي په پښتو) قاموس تر خپرولو وروسته، د پښتو ټولنې تصمیم ونیو چې د (پښتو په انګلیسي) قاموس هم د چاپ دپاره تیار کړي. د دې دپاره چې لوستونکي په تلفظ کې مشکلات ونه ویني لازمه وګڼل شوه چې تلفظ په فونیمیک توګه وښکل شي. د فونیمیک phonemic توګه د ښکلو دپاره د پښتو ټولنې د ژبپوهانو او علمي پوهانو یوې ګوتې بلنه ورکړه چې فونیمیک توري تعیین او تثبیت کړي. د توري د ټاکلو نه پس، د ژبپوهنې لوی مدیر څېړنوال دکتور عبدالحکیم هلالي ته وظیفه ورکړه شوه چې په دې باره کې یوه مفصله علمي مسوده ولیکي.

څرنګه چې د فونیمیک توري په باب د علمي کمیټې فیصله وروستۍ پرېکړه ګڼله کېږي هیله ده چې د ګډوډۍ د مخنیوي دپاره به محترم لیکوال د دې پرېکړې مراعات وکړي.

دا هم باید وویل شي چې د غیر لازمو توریو اکاډمیک ارزښت لري. په لاتیني توریو باندې د پښتو د لیکلو په برخه کې بې له ځینو استثناوو، تخنیکي او یا نورو ملحوظاتو له مخې د دولت له خوا ځانګړی تصمیم نه دی نیول شوی او یا باید پرې کره تصمیم ونیول شي.

څېړنوال محمد صدیق روهي

د پښتو ټولنې رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

عنوان                                                                مخ

## لومړۍ برخه


۱ - سریزه ........................ ۱
۲ - د پښتو ژبې منلې سوې فونیمیکه الفبې ........ ۸
۳ - د فونیمیکې الفبې احتیاطي توري ............ ۱۱
۴ - فونیمیکه الفبې او دخیلې عربي کلمې ......... ۱۳
۵ - د پښتو ژبې بشپړه فونیمیکه الفبې ........... ۲۲


## دوهمه برخه


۶ - د کوهستان شفق (بېنوا) ........... ۲۷
۷ - لنډۍ ........................... ۳۳
۸ - خوږه به سنه وي (الفت) ............ ۳۵
۹ - لنډۍ ........................... ۳۸
۱۰ - سپوږمۍ (بېنوا) ................. ۴۰
۱۱ - لنډۍ .......................... ۴۴
۱۲ - ساقي (اجمل ختک) ............... ۴۶
۱۳ - سپوږمۍ (لایق) ................. ۴۸
۱۴ - محشر (عبدالباري جهاني) ......... ۵۱

# سریزه

د پښتو ژبې ږغيز خصوصيتونه د اوسني معمول ليک
په مرسته په واقعي بڼه نه څرګندېږي. ددې
علت دا دی چې :

1) د پښتو ژبې په اوسني ليک کې ځينې واولونه
د کلمو په ځينو برخو کې کومې مشخصې علامې (ګرافيمونه)
نه لري ، لکه : د { ژړل } کلمه چې د پنځو فونيمونو
(ږغيزو واحدونو) / ž-ə-ṛ-ə-l / څخه جوړه ده ،
خو په ليک کې يوازې په دريو توريو { ژ - ړ - ل } سره ليکله کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢) په اوسني ليک کي څو مختلف فونيمونه په يوه توري سره ليکل کيږي . د پښتو ژبي د بېلو بېلو فونيمونو (بېغيزو - واحدونو) لکه: /o/، /u/ او /w/ د پاره په اوسني مروج ليک کي يوازي يو توری { و } سته. مثالونه يې په لاندې کلمو کي ليدلای شئ :

کور - /kor/

سور - /sūr/

خوړل - /xwarəl/

٣) په مروج ليک کي د /a/ او /ə/ فونيمونو د پاره چي د کلمو په پای کي راغلي وي ، يوازي يوه علامه { ه } سته لکه:

زړه / zrə /

زره / zara /

پسه / psə /

سپه / špa /

٤) په اوسني ليک کي کله کله د يوه فونيم ( بېغيز واحد) د څرګندولو د پاره دوه توري ليکل کيږي . د مثال په ډول، د { او به }

(c) ketabton.com: The Digital Library



{اوده}، {اوړ} کلمې چې په سر کې یې یوازې یو فونیم /o/ دی خو په لیک کې د غه یو فونیم په دوو توړو {ا + و} سره لیکل کېږي لکه :

اوبه - /obə/

اوړه - /oṛə/

اوړ - /oṛ/

په همدې ډول د پښتو ژبې د فونیمونو (ږغیزو واحدونو) او گرافیمونو (توړو) ترمنځ پوره سمون نه لیدل کېږي. قاموس لیکونکو د غه د پښتو ژبې د ږغونو او لیک ترمنځ بېلتون درک کړی دی نو ځکه کوښښ یې کړی چې په قاموسونو کې د پښتو لغتونو د لوستلو د پاره یو ډول سیستم غوره کړي. محمدگل مومند په خپل قاموس (پښتو سیند - ۱۳۱۶) کې د کلمو د لوستلو د پاره د مخففونو یو سیستم غوره کړی چې په لاندې ډول ښودل کېږي:

اخیستل - (م، مك، سامع، سا، حرمخ، سا)

ارزان - (مف، سا، مف، م، سا)

د پښتو قاموس لیکونکو بیا د پښتو سیند مرکب مخففونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لن څه ساده کړي دي. په دې قاموس کې یې د کلمو د لوستلو د پاره
داسې بسیطو توږو څخه کار اخیستی چې هر توری یې د هغو
حرکتو نو نماینده ګي کوي چې اصلاً په عربي ژبه کې معمول دي، لکه

کور (ض، م، س)

زړه (س، ز، س)

زړه (ف، ف، س)

په ظفر اللغات کې د کلمو د لوستلو د پاره د تلفظ په ځای د کلمو
سېلابونه بېل بېل ښودل شوي دي او په زیاتو برخو کې پر سېلابونو
حرکتونه هم ښودل شوي دي، لکه:

ایشول - ( اِ - شَ - وِلْ )

ابتدا - ( اِبْ - تِ - دَا )

په پښتو ژبه (قاموس) کې چې په پېښور کې خپور شوی د کلمو
د لوستلو د پاره دیوه داسې ترتیب څخه کار اخیستل شوی چې په هیڅ
نامه یې نه شو نومولای. ځکه چې کوم ثابت کلي سیستم نه لري.
د کلمو د لوستلو د پاره کله د سېلابېز بېلولي څخه کار اخیستل شوی
او کله بیا د مطلوبې کلمې توري په جلا جلا ډول په قوس کې

لیکل سوي او حرکتونه یې ښودل سوي دي، لکه :

انډول :- ( اَنډ + وَلْ )

استوګن :- ( آ + سْ + تو + ګَ + نْ )

او داسې نور ...

دغه ډول د لوستلو یا د تلفظ د څرګندولو سیستمونه دیوې خوا د ډېرو لوستونکو دپاره مشکل او دبلې خوا د کلمو تلفظ نه افاده کوي ، بلکه یوازې د کلمو د توریو حرکتونه یا د کلمو توري او سیلابونه بېل بېل ښيي. دغه ډول سیستمونه د کلمو د بڼې جوړښت او بڼې خصوصیت سره پوره سمون نه لري. دغه علت دی چې کله کله قاموس لیکونکي د سترو اشتباهاتو سره مخامخ سوي دي.

د پښتو ژبې په مروجه لیک کې هغه کلمې چې په /a/ او /ə/ ختمیږي، د واوه واولونه په یوه توري { ه } سره لیکل کیږي. خو ځینو قاموس لیکونکو دغه د واوه واولونه چې د کلمو په پای کې راغلي وي د تلفظ د افادې په برخه کې ساکن بللـــی دي، لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه (س ز س)

ژړه (ف ر ف س)

د غه { ه } علامه چې په پورتنیو کلمو کې راغلې ده، ساکنه نه ده بلکه په لومړۍ کلمه کې د /ə/ او په دوهمه کلمه کې د /a/ د غږونو د ښکندونې یوه لیک نښه ده.

څرنګه چې د یوې خوا د پښتو ژبې د غږونو او لیک تر منځ بېلتون موجود دی او د بلې خوا د غه ډول د تلفظ د افادې سیستمونه چې زموږ په قاموسونو کې مروج دي، د کلمو پوره او سم تلفظ نه سي افاده کولای، نو یوازنۍ سمه لاره به دا وي چې په پښتو قاموسونو کې د کلمو تلفظ په لاتیني توروو ولیکل سي.

په لاتیني توروو سره کېدای سي چې د پښتو کلمو سم تلفظ افاده سي.

څنګه چې او س په پښتو تولنه کې پر پښتو - انګلیسي قاموس کار کېږي، نو ددې دپاره چې د پښتو لغتونو د تلفظ د ښکندولو دپاره د لاتیني توروو یو داسې سیستم غوره سي چې د یوې خوا بین المللی شهرت ولري او د بلې خوا په افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژبنیو تحقیقاتو کې زموږ د پوهانو تر منځ یو معیاري حیثیت غوره کړی، نو د عمل په ډګر کې شمېر د دوشنبې په ورځ په پښتو ټولنه کې یوه علمي غونډه وشوه. دې غونډې ته د فونیمیکې الفبې د تماکلو دپاره دغه پوهان راغلي وو:

ښاغلی پوهاند عبدالحی حبیبی

ښاغلی پوهاند عبدالشکور رشاد

ښاغلی پوهاند رحیم الهام

ښاغلی عبدالرؤف بېنوا

ښاغلی پوهاند دکتور سید بهاوالدین مجروح

ښاغلی څېړنوال محمد صدیق روهي

ښاغلی څېړندوی عبدالله خدمتګار

ښاغلی دکتور مجاور احمد زیار

ښاغلی څېړنوال دکتور سیدالشاه پولاد

ښاغلی څېړنوال دکتور دولت محمد

ښاغلی عبدالجلیل وجدي

ښاغلی څېړنوال دکتور عبدالحکیم هلالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې غونډه کې د پښتو ژبې د فونيميکې الفبې په برخه کې پوره بحث او غور وشو. وروسته له هر اړخيزې څېړنې، د - غونډې د ټولو ګډون کوونکو دخوا د پښتو ژبې د ږغونو د افادې د پاره يو فونيميک سيستم ومنل شو چې دلته راوړل کېږي

## د پښتو ژبې منلې شوې فونيميکه الفبې

| معمول توري | د فونيميکې الفبې توري | | |
|---|---|---|---|
| ا | a | اتل، سر، شپه | atal, sar, špa |
| آ | ā | آس، ويار، سبا | ās, wyāṛ, sabā |
| ب | b | بار | bār |
| پ | p | پښتو | Paṣto |
| ت | t | تور | tor |
| ټ | ṭ | ټول | ṭol |
| ج | j | جوړ | joṛ |
| چ | č | چاکو | čākū |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | د فونیمیکي الفبې توري | معمول توري |
|---|---|---|---|
| ǰāy | ځای | ǰ | ځ |
| cok | څوك | c | څ |
| xor | خور | x | خ |
| dod | دود | d | د |
| ḍer | ډېر | ḍ | ډ |
| rap | رپ | r | ر |
| ṛūnd | ړوند | ṛ | ړ |
| zoṛ | زوړ | z | ز |
| žwənd | ژوند | ž | ژ |
| ẓaǧ | ږغ | ẓ | ږ |
| samūn | سمون | s | س |
| šəl | شل | š | ش |
| ṣāǧəlay | ښاغلی | ṣ | ښ |
| ǧamay | غمی | ǧ | غ |
| kār | کار | k | ك |

| | | دفونیمیکي الفبې توري | معمول توري |
|---|---|---|---|
| gaḍ | گډ | g | گ |
| lās | لاس | l | ل |
| mor | مور | m | م |
| nən | نن | n | ن |
| maṇa | منه | ṇ | ڼ |
| wādə, žəṛawəl | واده، ژړول | w | و |
| har, sahār | هر، سهار | h | ه |
| yor, melmastyā | یور، میلمستیا | y | ي |
| saṛay | سړی | ay | ی |
| hosəy | هوسۍ | əy | ۍ |
| wir (ځوته) Īši الښي | ویر | i | ي |
| ter, maste | تېر، مستې | e | ې |
| Kor | کور | o | و (مجهول) |
| lūr (ځی منیم) Gūru گورو | لور | ū | و (معروف) |
| sur | سر (په موسیقي کې) | u | پېښن |

ebra

| | | | |
|---|---|---|---|
| زبر | ɪ × | ابر (حاصل) | ɪbra |
| زورکی | ə | نیکه ، لوستل | nikə, lwastəl |
| درنج د ځای د ښودلو د پاره دا لاندې علامه منل شوې ده: | | | |
| غځ | ´ | کوټه | koṭá |

احتیاطي: ث (θ)، ذ (ð)، ح (ḥ)، ص (ṣ)، ض (ẓ)، ط (ṭ)، ظ (ẓ̄)، ع (ʕ)، ف (f)، ق (q)، ء (ʼ)، معدوله واو (ʷ)، جرمني (w)، انګلیسي (v) او روسي (B) په (v).

## د فونیمیکي الفبې احتیاطي توري

د پښتو ژبې د فونیمیکي الفبې د جدول په پای کې د احتیاطي په نامه ځيني توري ليکل شوي دي. د ژبنيو مسألو په علمي څېړنو کې د دې تورو ليکلو ته ضرورت ليدل کيږي. په همدې اساس د پښتو ژبې د فونيميکي الفبې په پای کې د ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوي دي.

کره وغواړو چې دد خیلو عربي کلمو، لکه : { ثواب، حوض، ذکاوت، صبر، ضرر، طالب، ظالم } اصلي عربي تلفظ او د دغو کلمو پښتو تلفظ سره مقایسه کړو، نو د مقایسې د پاره مجبوره یو چې د پورتنیو کلمو د اصلي تلفظ د افادې د پاره هم په فونیمیکي الفبې کې تاکلي توري ولرو. او س به د لته د مثال په ډول د پورتنیو کلمو پښتو او اصلي عربي تلفظونه په مقایسوي ډول په فونیمیکي الفبې سره ولیکو :

| پښتو تلفظ | اصلي عربي تلفظ | په لیک کې |
|---|---|---|
| /sawā́b/ | /θawāb/ | ثواب |
| /hawẓ/ | /ḥawẓ/ | حوض |
| /zakāwát/ | /ðakāwat/ | ذکاوت |
| /sábər/ | /ṣabr/ | صبر |
| /zarár/ | /ẓarar/ | ضرر |
| /tālíb/ | /ṭālɪb/ | طالب |
| /zālím/ | /ẓālɪm/ | ظالم |

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه نور احتیاطي توري هم د دې مقصد دپاره لیکل سوي دي. د / ع ، ف ، ق / مفصل شرح د (فونیمیکه الفبې او دخیلي عربي کلمې) تر عنوان لاندې راغلې ده.

# فونیمیکه الفبې او دخیلي عربي کلمې

د پښتو ژبي په مروجې الفبې کې لس داسې توري سته چې په دخیلو عربي کلمو کې راځي. دغه لس توري په عربي ژبه کې د خاصو عربي بږغونو دپاره تاکل سوي دي. که څه هم دغه لس توري په هغو کلمو کې چې پښتو ژبې ته داخلې سوي او اوس په پښتو ژبه کې مستعملې دي، لیکل کیږي، خو پښتانه یې د عرب په شان نه تلفظ کوي. دغه لس توري دا دي:

ث ، ح ، ذ ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ع ، ف ، ق .

د دغو پورتنیو تورو د جملې څخه، چې په عربي دخیلو کلمو کې استعمالیږي او د عربي ژبې د خاصو بږغونو نماینده ګي کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وه یې د پښتو ژبې د غږیز جوړښت پر اساس په مفخن ډول تلفظ کیږي.

او وه توري دا دي: ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ.

مثالونه یې لاندې ښودل کیږي:

| پښتو تلفظ | عربي تلفظ | په لیک کې |
|---|---|---|
| / sābít / | /θābıt / | ثابت |
| / hāsıl / | /ḫāṣıl / | حاصل |
| / zakí / | /ðaki / | ذکي |
| / sādíq / | /ṣādıq / | صادق |
| / zaʕíf / | /ẕaʕif / | ضعیف |
| / tāqát / | /ṯāqat / | طاقت |
| / zarfiyát / | /z̄arfiyat / | ظرفیت |
| / s / | /θ, ṣ / | ث، ص |
| / z / | /ð, ẕ, z̄ / | ذ، ض، ظ |
| / h / | /ḫ / | ح |
| / t / | /ṯ / | ط |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر د {ع، ف، ق} توروو د تلفظ په برخه کښې بيا خبره بل ډول ده.

ع / ʕ / د خيل کانسونېنټ دی چې په عربي دخيلو کلمو کښې راځي. په ليک کښې {ع} ليکل کېږي. ځينې پښتانه يې عربي ته ورته د / ع / په ډول تلفظ کوي، لکه:

عادت /ʕadát/

وعده /waʕdá/

عسکر /ʕaskár/

مګر ځينې پښتانه يې بيا د وينا په وخت کښې بېخي حذفوي او يوازې په هغو واولونو اکتفا کوي چې تر / ع / وروسته يا د مخه راغلې وي. د حذفولو طريقه يې په دې ډول ده:

۱) که چيرې د دخيلو عربي کلمو د سېلابونو په سر کښې / ع / وي نو په وينا کښې د غه / ع / له منځه ځي او يوازې د هغه واول څخه شروع کېږي چې په سېلاب کښې تر / ع / وروسته راغلی وي، يعنې په سېلاب کښې د هغه واول څخه شروع کېږي چې تر / ع / وروسته موقعيت لري:

مثالونه یې دادي:

| په لیک کې | عربي اصلي تلفظ | حذف سوي پښتو تلفظ |
|---|---|---|
| عادت | /ʕādat/ | /ādát/ |
| عاجل | /ʕājɪl/ | /ājɪ́l/ |
| عبادت | /ʕɪbādat/ | /ɪbādát/ |
| عسکر | /ʕaskar | /askár/ |

۲) که چیرې د عربي دخیلو کلمو د سیلابونو په پای کې /ع/ وي نو په وینا کې د غږ /ع/ له منځه ځي او سیلاب په هغه واول سره پای ته رسیږي چې تر /ع/ د مخه راغلی وي.

مثالونه یې دادي:

| په لیک کې | عربي اصلي تلفظ | حذف سوي پښتو تلفظ |
|---|---|---|
| موضوع | /mawẕoʕ/ | /mawzó/ |
| شروع | /šuroʕ/ | /šuró/ |
| استعمال | /ɪstɪʕmāl/ | /ɪstɪmā́l/ |
| وداع | /wɪdāʕ/ | /wɪdā́/ |

ف /f/ دخیل کانسوننټ دی چې په عربي دخیلو کلمو کې

راځي. ځيني پښتانه يې د /پ/ او ځيني يې د عربي تلفظ
په ډول /ف/ وايي. مثالونه يې دا دي:

فرمان /farmán/

فاصله /fāsılá/

فکر /fíkar/

صفت /sıfát/

ق /q/ يو دخيل فونيم دی چې په عربي دخيلو کلمو
کې راځي. ځيني پښتانه يې د /ک/ او ځيني يې تقريباً د
عربي تلفظ په ډول /ق/ وايي. مثالونه يې دا دي:

قانون /qānū́n/

قاموس /qāmū́s/

حقايق /haqāyíq/

د پورتني لنډيز يادونې څخه دې نتيجې ته رسيږو چې:

۱) د عربي ژبې ټولې هغه دخيلې کلمې چې اوس په پښتو
ژبه کې استعماليږي او په ليک کې د غو توري [ث، ح، ذ،
ص، ض، ط، ظ] پکښې راځي د فونيميکي الفبې په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورو سره یې لیکو چې د دغو عربي تورو پښتو تلفظ څرګندوي لکه

ثابت /sābit/

صادق /sādiq/

ذکي /zaki/

ضرورت /zarūrát/

ظالم /zālim/

طاقت /tāqát/

حال /hāl/

۲) /ق/ او /ف/ د پښتو ژبې دوه دخیل فونیمونه دي. دغه فونیمونه په دخیلو عربي کلمو کې چې په پښتو ژبه کې استعمالیږي د اکثرو باسوادو پښتنو د خوا عربي تر ورته تلفظ کیږي. په همدې اساس هم په پښتو قاموسونو کې (د دخیلو عربي کلمو د تلفظونو په برخه کې) او هم په فونیمیکي الفبې کې د غه پورتني عربي توري په هغو لاتیني تورو سره لیکو چې د عربي تلفظونو د څرګندولو د پاره تاکل سوي، لکه:

قاموس /qāmūs/

قول /qawl/

قلم /qalám/

حق /haq/

حقایق /haqāyiq/

فرق /farq/

فرعي /farʿi/

فیصله /faysalá/

فلسفه /falsafá/

فایده /fāydá/

فرمان /farmān/

صفت /sifát/

هغه دخیلي عربي کلمې چې د تاریخ په اوږدو کې یې خپله بڼه بدله کړې او اوس په پښتو ژبه کې په اوښتې (مغیر) ډول استعمالیږي د پورتنۍ قاعدې څخه مستثنی ګڼل کیږي. د مثال په ډول، د {کمیس، وخت} کلمې چې اوس په دغه شکل ویلې کیږي او هم په دغه شکل لیکلې کیږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي عربي ليکلي شکل نه يې {قميص، وقت} دي.

که چيرې په قاموسونو کې د دې ډول کلمو تلفظ ليکو او يا غواړو چې دا ډول کلمې په فونيميکي الفبې وليکو، نو داسي به يې ليکو :

کميس /kamís/

وخت /waxt/

په پښتو ژبه کې داسي نورې مغنې کلمې ستر چې او پر ليک او لوست کې يوازې په مغنن شکل مستعملې دي، لکه:

اديره /adirá/

اورته /awráta/

او داسي نورې ...

۳) /ع/ د پښتو ژبې يو دخيل فونيم دی. دغه فونيم په دخيلو عربي کلمو کې چې په پښتو ژبه کې استعماليږي، د اکثرو باسواده پښتنو د خوا د کلمو په زياترو وبرخو کې عربي ته ورته تلفظ کيږي. په همدې اساس هم په پښتو قاموسونو کې (د دخيلو کلمو د تلفظونو په برخه کې) او هم په فونيميکي الفبې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه پورتني توري په عمومي لاتيني توري سره ليکو چي دعربي تلفظ دخرگندولو دپاره تاکل سوي دي، لکه :

عادت /ʕādát/

عبادت /ʕɪbādát/

وعده /waʕdá/

استعمال /ɪstɪʕmāl/

د / ع / فونيم چي د کلمو په پای کي راغلی وي، که څه هم په اوسني مروج ليک کي ليکل کيږي، خو په زياتو مواردو کي نه تلفظ کيږي. په همدې اساس هم په پښتو قاموسونو کي (د دخيلو عربي کلمو د تلفظ په برخه کي) او هم په فونيميکي الفبې کي د دغه توري تلفظ نه ليکو، لکه :

موضوع /mawzó/

شروع /šuró/

اجتماع /ɪjtɪmā́/

وداع /wɪdā́/

او داسي نور ...

د پورتني (فونيميکه الفبې او دخيلي عربي کلمې) بحث پر نتيجې کې د پښتو ژبې د بشپړې فونيميکي الفبې توري په دې ډول تاکل کېږي:

## د پښتو ژبې بشپړه فونيميکه الفبې:

| معمول توري | د فونيميکي الفبې توري | | |
|---|---|---|---|
| ا | a | سر، اتل، شپه | sar, atál, špa |
| آ | ā | آس، وياړ، سبا | ās, wyāṛ, sabā |
| ب | b | بار | bār |
| پ | p | پښتو | paṣtó |
| ت | t | تور | tor |
| ټ | ṭ | ټول | ṭol |
| ث | s | ثابت | sābít |
| ج | ǰ | جوړ | ǰoṛ |
| چ | č | چاکو | čākū |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | دفونیمیکے الفبی توری | معمول توری |
|---|---|---|---|
| jāy | ځای | j | ځ |
| cok | څوك | c | څ |
| hāsil | حاصل | h | ح |
| xor | خوړ | x | خ |
| dod | دود | d | د |
| ḍer | ډېر | ḍ | ډ |
| zakí | ذکی | z | ذ |
| rap | رپ | r | ر |
| ṛūnd | ړوند | ṛ | ړ |
| zoṛ | زوړ | z | ز |
| žwənd | ژوند | ž | ژ |
| ẓağ | ږغ | ẓ̌ | ږ |
| sam | سم | s | س |
| šlūmbé | شلومبې | š | ش |
| ṣāğəlay | ښاغلی | ṣ̌ | ښ |

| | | دفونیمیکي الفبې توري | معمول توري |
|---|---|---|---|
| sādíq | صادق | s | ص |
| zarár | ضرر | z | ض |
| tāqát | طاقت | t | ط |
| zālím | ظالم | z | ظ |
| ʕādát, waʕdá, mawzó | عادت، وعده، موضوع | ʕ | ع |
| ğamáy | غمی | ğ | غ |
| fāsılá | فاصله | f | ف |
| qānū́n | قانون | q | ق |
| Kār | کار | k | ک |
| gaḍ | ګډ | g | ګ |
| lās | لاس | l | ل |
| moṛ | مور | m | م |
| nən | نن | n | ن |
| maṇá | منه | ṇ | ڼ |
| wādə́, žəṛawə́l | واده، ژړول | w | و |

| | | د فونیمیکي الفبې توري | معمول توري |
|---|---|---|---|
| har, sahār | هر، سهار | h | ه |
| yor, wyār, melmastyā | یور، ویاړ، مېلمستیا | y | ي |
| kor, obə | کور، اوبه | o | و |
| sūr | سور | ū | و |
| sur | سُر (په موسیقۍ کې) | u | پېښ |
| ıbrá, ımzā́ | ابره، امضا | ı | زېر |
| wir | ویر | i | ي |
| ter, masté | تېر، مستې | e | ې |
| saráy | سړی | ay | ی |
| heləy | هیلۍ | əy | ۍ |
| nikə́, zṛə | نیکه، زړه | ə | زورکی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وهمه برخه

په دې برخه کې د پښتو ژبې د فونیمیکي الفبې د زده کړې د پاره یو څو شعرونه اولندۍ هم په اوسني مروج لیک او هم په فونیمیک الفبې سره لیکل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکوهستان شفق

## dəKohestán šafáq



هندوکش پر سر لمبې دي
که اسمان سره کناره ده

hendūkúš pər sar lambé di
Kə asmán sra Kenārá da

دکوم سوي زرګي آه دی
یا د وینو فواره ده

də Kūm səwi zırgi·āh day
yā də winū fawārá da

که چنګیز دعصر توره
چې له تیکي را بکاره ده

Kə čangéz də ʕásər túra
či lə téki rāṣkārá da

یا خو بل د میني اور دی
د فلک پرې سوی کور دی

yā xū bal də míni or day
də faláK pre sə́way Kor day

د سکندر د وخت شهید دی
په حسرت گوري بگرام ته

də sKandár də waxt šahíd day
Pə hasrát gúri bagrā́m tə

یا لیوال روح د عاشق دی
چي ورځي د یار سلام ته

yā lewā́l roh də ʕāšuq day
či wərǰí də yar salā́m tə

یا واله د سرو شرابو
چي تویېږي یوه جام ته

yā wālə́ də sro šarābū
či tūyiẓi yəwə́ jām tə

دا میدان د کربلا دی
که سالو سور د لیلا دی

dā maydā́n də Karbalā́ day
Kə sālū́ sūr də laylā́ day

دا زړگی د آسمان و چاود
که سینه د دیوانه ده

dā zıṛgáy də asmā́n wə́čāwə
Kə siná də dewāná da

یا ساقي له لاسه ښکته
چپه سوې پیمانه ده

yā sāqí lə lāsá ṣkə́ta
čapá sə́we paymāná da

او که دړې د عبرت لیک دی
ښه رنگینه افسانه ده

aw kə dars də ʕıbrát lik day
ṣə rangina afsāná da

موږ ته یاده جانبازي کړي
د نیکونو سربازي کړي

mūẓ tə yā́da jānbāzí kṛi
də nikū́nū sarbāzí kṛi

د مؤمن د زړه په وینو
شیرینو سور کړی لاس دی

də momín də zṛə pə winū
širinó sūr káray lās day

که کفن د شهیدانو
پرښتو نیولی پاس دی

kə kafán də šahidā́nū
pariṣtó niwə́lay pās day

یا د نیا کی خو نریزي دء
پر افق یې انعکاس دی

yā dunyā́ ki xūnrizí da
pər ofúq ye ınsıkā́s day

يه ، شفق دکوهستان دی
را چاپېره • پر اسمان دی

ya, šafáq də kohestā́n ḍay
rāčāpéra pər asmā́n day

دې شفق کې ستورې ښکارې
که صدف دی سره دریاب کې

de šafáq ki stū́ri ṣkā́ri
kə sadáf di srə daryā́b ki

یا حساس زړه د شاعر دی
چې ډوب سوی په خوناب کې

yā hasā́s zṛə də šāsír day
či ḍūb sə́way pə xūnā́b ki

یا یتیم دی او ښکې څاڅي
د دې دهر په سیلاب کې

yā yətím day ŭṣki cā́cī
ðəde ðáhar pə selā́b ki

که سپین غاښ دي ځلیده کي
د محبوبي په سره خوله کي

ka spin ğāṣ di jaledə́ ki
ðə mahbū́bi pə sra xulə ki

دا پر غرونو اوریځ نه ده
دود سو جګ له کوهستانه

dā pər ğrū́nū oryáǰ nə ða
dūð sū jəg la kohestā́na

یا سپیري پاڼي تاریخ دی
چي قصي کړي له بامیانه

yā speré pā́ṇi tāríx ðay
či qəsé kṛi lə bāmyā́na

یا خو ګرد زموږ پښتو دی
چي باج خلي له آسمانه

yā xū gard̂ zumūẓ də p̂ṣo day
či baj áxli lə asmā́na

داچې شنې د کې ولې دي
دا سمان د مخ خولې دي

ðā či šne ðəki walé di
ðə asmā́n də məx xwle ði



# لنډۍ

ته بختور يې سوداگره
چې مرغلرې خرڅوې شمېرې خالونه

tə baxtawár ye sawdāgə́ra
či marǧalə́ri xarcawé šmeré xālū́na

ما د اسمان سپينه سپوږمۍ کې
چې د جانان پر کېږدۍ تل ولاړه يمه

mā ðə asmā́n spína spoẓmə́y ke
či ðə jānā́n pər kiẓdə́y təl walā́ṛa yə́ma

سپينې کوټې دې کنډوالې سي

زما ياديږي د کيږدۍ سره شمالونه

spini koṭe di kanḍwāké si

zmā yādiẓi də kiẓdə́y sə šamālūna

که ديدن کړې ګودر ته راسه

زه به منګى په لپو ورو-ورو ډکومه

kə didán kṛe gūdə́r tə rā́sa

zə bə məngáy pə lə́pū wro_wró ḍakawə́ma

ګودر ته جم راپسې راسه

يوه شېبه به دې په سره زړه وينمه

gūdə́r tə jəm rāpasé rā́sa

yawá šebá bə di pə sə zṛə wəwinə́ma

خوله به د خداى په رضا درکم

منګى مې ولې سوروې لنده دې کړمه

xwlə bə də xdā́y pə razā́ dérkam

məngáy mi wə́li soṛawé landá di kṛə́ma



# خومره به ښه وي

## cū́mra bə ṣə wi

چې په سپین مخ دې زلفې خورې وي
ستر ګې دې تورې شونډې دې سرې وي

če pə spin məx de zə́lfe xwaré wi
stə́rge de tóre šū́nḍe de sre wi

زه یم او ته یې نازو نخرې وي
خومره به ښه وي، خومره به ښه وي

zə yəm aw tə ye nā́zo naxcré wi
cū́mra bə ṣə wi, cū́mra bə ṣə wi

چې زه حیا کړم او ته شوخي کړې
زه جرئت نه کړم خو ته مستي کړې

če zə hāyā́ Kṛəm aw tə šoxí Kṛe
zə jurát nə Kṛəm xu tə mastí Kṛe

شي مهربانه او دلداري كړي

څومره به ښه وي ، څومره به ښه وي

še mehrabā́na aw deldāri Kṛe

cū́mra bə ṣə wi, cū́mra bə ṣə wi

چې مې حيا شي له غونډې لرې

زه د ور نژدې شم ته وايي لرې

če me hayā́ ši laẓ ğū́nde lā́re

zə dər neẓdé šəm tə wā́ye lā́re

در ته شروع كړم د عشق سندرې

څومره به ښه وي ، څومره به ښه وي

dər tə šuró Kṛəm də ςıšq sandā́re

cū́mra bə ṣə wi, cū́mra bə ṣə wi

چې ستا په غاړه وي امېلونه

زه دې وربل كې ږدمه ګلونه

če stā pə ğā́ṛa wi amelū́na

zə de warbál Ke ẓdə́ma gulū́na

ته راته وايې دزړه حالونه

څومره به ښه وي، څومره به ښه وي

tə ráta wáye də zṛə hālū́na

cū́mra bə ṣə wi, ċū́mra bə ṣə wi

چې درته وايم په مايې ګرانه

له ټول عالمه له درست جهانه

če dərtə wáyəm pə mā ye grāna

lə ṭol ʿāláma lə drəst jahána

ته وايې نه يم دومره ارزانه

څومره به ښه وي، څومره به ښه وي

tə wáye nə yəm dū́mra arzā́na

cū́mra bə ṣə wi, cū́mra bə ṣə wi

چې شم بېخوده او هرڅه وايم

ډېره دې زيا تر له حده ستايم

če šəm bexúda aw hárca wáyəm

ḍéra de zyáta lə háda stáyəm

ته راته وایې چې زه خو ستا یم
څومره به ښه وي، څومره به ښه وي

tə rā́ta wāye če zə xcū stā́yəm
cū́mra bə ṣə wi, cū́mra bə ṣə wi

# لندۍ



د نجلۍ تي ته مې لاس وروړ
د غرڅنۍ په څېر یې وواهل ټوپونه

də njələ́y ti tə mi lās wárwəṛ
də ğarcanə́y pə cer ye wə́wahəl ṭopū́na

د نجلۍ درې شېبه مزه کړې
تنګي پایڅې زړې پڼې وارۀ ګامونه

də njələ́y dre šə́ya mazá kṛi
tə́ngi pāycé zṛí paṇé wāṛə́ gāmū́na

چې خوله مې خوږه شي صرفه پرې ونه کړه
شکره نه ده چې په تول به که سینه

či xwlə mi xwre sarfá pre mə́kṛa

šakára nə́da či pə tol bə káma sína

سبا به بيا کـړي بارېږي

د دښت گلان به ستالمنه بـو يـوينه

səbā́ bə byā kāḍi bārīẓi

də dašt gulā́n bə stā ləmə́na būyəwína

چې د وصال د پيالو وېش و

زه په ځنځير د خپل قسمت تړلې ومه

či də wisā́l də pyāló weš wū

zə pə jənjír də xpəl qismát təṛále wə́ma

که دي د يدن زما په کارو ي

سپوږمۍ ته گوره زه پر بام ولاړه يمه

kə di didā́n zumā́ pə kār wi

spoẓmáy tə góra zə pər bām walā́ṛa yə́ma

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Spoẓmə́y
# سپوږمۍ



د آسمان لویه دنیا کې
تر سپوږمۍ ښکلې زیبا یې

Də asmān lóya dunyā́ ki
tə spoẓmə́y ṣ̌kwəle zebā́ ye

رنګ الوتې ګونه زرده
ته ویشتلې په زړه چا یې

rang alwū́te gūná zárda
tə wištále pə zṛə čā́ ye

جوړه ما غوندې غمجنه
څوک دې نسته یک تنها یې

Jóṛa mā ğū́ndi ğamjə́na
cok di nəstə yak tanhā́ ye

راته واوايه له ميني
څه دِر سوي نازنيني

rā́tə wə́wāya lə míni
ca dər sə́wi nāzaníni

لالهانده سره ښوري
په شپه هر ځاى کي ولاړه

lālahā́nda sará ṣóre
pə špa har jāy ki walā́ṛa

محبت يو په زړه سوي
راسه کښينو سره دواړه

muhabát yū pə zṛə sə́wi
rā́sa kṣenū sará dwā́ṛa

زه به تاته زړګي تش کړم
ته وماته لاس تر غاړه

zə bə tā́ta zırgáy taš kṛəm
tə wəmā́tə lās tər ğā́ṛa

غم د ميني به نيمي کړو
په يوازي سر مږاړه

ğam də mini bə nimáy kṛū
Pə yəwā́zi sar məžā́ṛa

ښايسته يې ګلالۍ يې
د اسمان پېغله نجلۍ يې

ṣāyistā ye gulāləy ye
də asmā́n pégla njəláy ye

لکه اوس چې يې پخوا هم
د مينو هرځاى مله وې

lə́ka as či ye pəxwā́ ham
də məyə́nū hárǰāy mla we

خوار مجنون که پر سارا و
ته هم سمه ور سره وې

xwār majnū́n kə pər sārā́ wū
tə ham sáma wərsərá we

د شيرينې حال دې ولید
د فرهاد په غم کې ته وې

*də širini hāl di wəlid*
*də farhād pə ğam ki tə we*

چې به راز د مینې خپور وو
د هغه مجلس ډیوه وې

*či bə rāz də mini xpor wū*
*də hağə majlə́s ḍewá we*

مقتولان د عشق لیدل تا
په ورو ورو به پرې ژړل تا

*maqtūlán də ʿišq lidə́l tā*
*pə wro wró bə pre žaṛə́l tā*

وفاداره معشوقه یې
د عاشق د زړه توته یې

*wəfādāra mašūqá ye*
*də ʿāšuq də zṛə ṭoṭá ye*



# لنډۍ

طالبه خدای که به ملا سې
په کتاب پروت یې یادوې شینکي خالونه

taléba xdāy kə ba mulā́ se
pər kitā́b prot ye yādəwé šinkí xālū́na

طالبه روند سې کتاب کت که
ستا د کتاب تر حاشو ډېر دي زما خالونه

tāléba rūnd se kitā́b kat ka
stā də kitā́b tər hāšó ḍer di zmā xālū́na

راسه د خان نوکري پرېږده
نوکر زما سه سپینه خوله به درکومه

rā́sa də xān nokarī́ prézda
nokā́r zumā́ sə spína xwlə bə dərkawə́ma

تینګه مې مه نیسه په غېږ کې
سبا به بوی د لونګین در څخه ځینه

tínga me mə nisá pə ğeẓ ki
sabā́ bə būy də lawangín dər cáxə jína

خلک په چول کې تالا کیږي
زه د اشنا تر سینې لاندې تالا سومه

xálak pə čol ki tālā́ kiẓi
za də āšnā́ tər siné lā́ndi tālā́ swə́ma

یو واري تینګه په غېږ راسه
چې د ټټر روپۍ دې ګډې وډې کړمه

yaw wā́ri tínga pə ğeẓ rā́sa
či də ṭəṭə́r rūpə́y di gáḍi wāḍi krə́ma

## ٤٦



# ساقي

saqí



ساقي چرته کاسه نیمه شراب لري که نه؟
په خوا کښې چرته چنګ و یا رباب لري که نه؟

*sāqí čárta kāsá níma šarāb laré kə na?*
*pə xwā kṣe čarta čangū yā rabāb laré kə na?*

ثواب د زاهدانو ملایانو شه نصیب
رندانو ته رنګین غونډې عذاب لري که نه؟

*sawāb də zāhidānū mulāyānū šə nasíb*
*rindānū tə rangín ğúnde sazāb laré kə na?*

مسیحه! دا منمه چې ته مړي راغوې
دارو چرته د سوي زړه کباب لري که نه؟

*masíha, dā mənə́ma če tə mạri rağawé*
*dārū čárta də sə́wi zṛə kabāb laré kə na?*

چې مستو ته مباح کاندې په میو لمبېدل
اوس وایه ملاجانه لا چې کتاب لرې کړنه؟

če mástu tə mabā́h kā́ndi pə máyū lambedə́l
os wā́ya mulājā́na če kitā́b laré kə na?

راغلی یم د اخپله دنیاګۍ لاهو کوم
دې خم کښې څه قطره نیمه شراب لرې کړنه؟

rāǧə́lay yəm. də xpə́la dunyāgə́y lāhū́ kawə́m
de xum kṣe ca qatrá nima šarā́b, lare kəna?

د خم بې عزتي ده او چې شونډې د اجمل
راوار وه ساقي څه مې ناب لرې کړنه؟

də xum be ɛizatí da ūče šū́nḍe də ajmál
rāwā́rawa sāqí cə may nā́b lare kə na?



# Spoẓməy
# سپوږمۍ

سپوږمۍ د لوړو غرو د پاسه شويېده شويېده
سپينه رڼا په لويو دښتو خورېده خورېده

*spoẓməy də lwáru ğro də pāsa şwayedá swayedá*
*spina rəṇā pə lűyū ďąsto xwaredá xwaredá*

وږمې د ګلو له عطرونو سره
شپې د شپېلو له آوازونو سره

*waẓmé də gúlū lə satrűnū sará*
*špe də špaṇó lə āwāzűnū sará*

نشې د مېو له جامونو سره
زما په لاسو کښې ځنځير و نه د ګناه اچول
توبه وه مانه

*našé də máyo lə jāmǘnū sará*

zmā pə lāsó kṣe janjīrūna də gunā́ ačawə́l
tobá wa mā́ta

زه دنشې له پیچو تا به اوښتم اوښتم
دا د مچکو له ګرمیو تاویده تاویده

zə də našé lə pičo tā́ba awuṣtə́m awuṣtə́m
dā də mačə́kū lə garməyū tāwedá tāwedá

ماله عصیان او ګناهو نو سره
دې له مستۍ او هوسونو سره

mā lə ʿasyā́n aw gunāhū́nū sará
de lə mastə́y aw hawasū́nū sará

ساقي له ډکو ګیلاسونو سره
لاځې دمینې دوفا او دمستۍ کولې

خیا ویده وه

sāqí lə ḍəkū gilāsū́nū sará
lāṛe də míne də wafā́ aw də mastə́y kawále
hayā́ widá wa

٤٥٠

دا په مستۍ کې زما له غېږې رنګېږه رنګېږه
زه په هوس او په ګناه کې ډوبېږم ډوبېږم

*dā pə mastə́y ki zmā lə ǧiẓe ṛangedá ṛangedá*
*zə pə hawás aw pə gunā́ ki ḍūbedə́m ḍūbedə́m*

له تږیو تږیو ارمانونو سره
له ښکلو ښکلو عذابونو سره

*lə táẓyō táẓyō armānū́nū sará*
*lə ṣ̌kúlū ṣ̌kúlū ʿazābū́nū sará*

د زلمیتوب له کړاونو سره
د سباوون رڼا د ستر پرده وڅیرله
مینه رسوا شوه

*ðə zalmitób lə kaṛāwū́nū sará*
*ðə sabāwū́n rəṇā́ ðə sátar pardá wə́cirəla*
*mína ruswā́ šwa*





# محشر

# mahšar

شیخه مه راځه محشر دی مځکه سوځي اسمان سوځي
خم له اوره سره چوي پیاله سوځي مستان سوځي

šáyxa mərāja mahšár day mjə́ka swəji asmán swəji
xum lə óra sará čáwi pyālá swəji mastán swə́ji

د سکروټو مجمرونه د سینو ګرداب ته لویږي
په دوزخ کې پایکوبي ده څپه سوځي توفان سوځي

ðə skarwəṭū majmarúna ðə sinó gardáb tə lwíẓi
pə dozáx ké pāykobí ða capá swə́ji tofán swə́ji

د سوما له خمه اخلي د جمشید په جام جامونه
د زردشت لحد او واخیست خرقه پوش زاهدان سوځي

ðə somā lə xúma áxli ðə jamšéð pə jām jamúna
ðə zardāšt lahað or wáxist xırqapóš zāhıdán swə́ji

مهارت د عمر غواړي په مجلس چي ورګډيږي
د پخو رندانو ځای دی سست مذهب او ايمان سوځي

mahārát də súmar ǧwā́ṛi pə majlə́s či wərgaḍiẓi
də pəxó rındā́nū ǰā́y day sust mazhā́b aw imā́n swā́ǰi

بدمستي د هياهوی دی توبې سر پر سر ماتيږي
چيغې ورغلي محراب ته توبه سوځي شيخان سوځي

badmastí da hayāhū́y day tobé sar pər sar mātiẓi
čīǧi wárǧle mıhrā́b tə tobá swā́ǰi šayxā́n swā́ǰi

دا مسلک د خرابات دی په هر خم کي خرابيږي
حريفان پکښي غرقيږي ساقي سوځي رندان سوځي

dā maslák də xarābā́t day pə har xam ki xarābẓ́i
harifā́n pakṣé ǧarqíẓi sāqi swā́ǰi rındā́n swā́ǰi

د مطرب شهباز په لاس دی د احساس نغمې يې سره کړه
عقل فکر او ارخيستي اپلاتون او لقمان سوځي

də mutrib šahbā́z pə lā́s day də ihsā́s nağmā́ye sra kṛa
sā́qal fikar or axistay aplatū́n aw luqmā́n swā́ǰi

عقل لاړه ورکه کړې د جنون غېږې ته لوېږي
د مجنون فکر سلطان دی دانا سوځي نادان سوځي

sáqal lára wrə́ka kāṛe də junū́n ǧīẓi tə lwiẓi
də majnū́n fikar sultā́n day dānā́ swə́ǰi nādā́n swə́ǰi

پای

د نصیر "هنر" پښتون په خط

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکتور عبدالحکیم هلالی
دکتاب مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

DR. ABDUL HAKIM HELALI

# PASHTO PHONEMIC ALPHABET

Pashto Academy

KABUL, 1976

Government Printing House

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**